# نوردکوم ځای څخه مرسته غوښتلای شی؟

داغوس په ښارکی په لاندنیوکتابتونوکی:

- کتابتون کی Gellerup
- کتابتون کی Hasle
- مرکزی کتابتون
- کتابتون کی Risskov
- کتابتون کی Tranbjerg
- کتابتون کی Skødstrup
- کتابتون کی Viby

ځینی دکورونواتحادیی هم دکورنی کارمرسته کوی. دخپل کورونوپه اتحادیی کی په دی اړوندپوښتنه وکړه.

ډیری ښوونځی، SFO اوکلوپونه هم دکورنی کارمرسته کوی. ددی په اړوندخپل دماشوم په ښوونځی کی پوښتنه وکړه.

دانترنیټ له لیاری مسقیمه مرسته:
Online-lektiehjælp
www.lektier-Online

تاسوکولای شی چی ویډیوووینی:
ډنمارکی ښوونځی ته ښه راغلاست په لاندی پته یی ووینی:
www.uvm.dk/velkommen

په ګډه مرسته VIAUniversity College کتابتون، اغوس کمون او Viby داموادد دکورنی کاردبودجی څخه برابرشوی دی اوهم دکتابتونواداری، میډیااوداغوس کمون مالی مرسته کړی ده: دانټیګریشن دابتکارله سرچینی څخه

Pashto oversættelse af pjecen:
*Sådan kan du hjælpe dit barn med lektierne*







ښېرنی وايي:

» کله چې ماشوم داوه کلنې په عمرکې وي والدين يې په زړه کړوکې شپږبرابره دښوونځې په پرتله په لوړه پيمانه ا غيزه وربانډی لري

Professor Charles Deforges, Exter University, 2009

## ته کولای شی چې مختلف کتابونه په کتابتون کی قرض کړی، چې وروسته

- کولای شی هغه دخپل ماشوم سره په ګډه ګټه ورڅخه واخلی
- په مورنی ژبه کتابونه
- هغه کتابونه چې ومورنی ژبی ته ژباړل شوی دی
- دعکسونوکتابونه.

په ځينوکتابتونوکی دکورنی کارکافی(ځای) شتون لری.

## که ماشومان دښوونځی څخه کتابونه دځانه سره ولری، چې بايدويې لولی ، تاسوکولای شی:

- ماشوم ته وخت ورکړی چې تاسوته کتاب ولولی.
- ته پوښتنه وکړه چې ماشوم په هغه څه چې لولی، پوهيږی اودڅه په هکله دی؟
- ته کولای شی دعکسونوپه اړونديې په مورنی اوياډنمارکی ژبه ورسره وږغيږی. څه شی تاسوپه عکسونوکی وينی؟





**که زه دخپل ماشوم سره دکورنی کارمرسته ونه کړم نوزماماشوم به ددی کارلپاره یوازی پاته وی**

والیدین

# مورنی ژبه دیوی مرستی په توګه دډنمارکی ژبی دزده کړی لپاره

مورنی ژبه یوه مهمه ذخیره ده. هرڅومره چې ستاسوماشوم په مورنی ژبه ښی خبری وکړای شی، په همهغه اندازه به په ډنمارکی ژبه درستی خبری وکړی اوهم به ښه کتاب ولوستلای شی. په دی خاطر دایوه ښه مفکوره ده چې:

- دخپل ماشوم سره دهرهغه څه په اړوندچې تاسویې په ګډه وینی اوتجربه کوی، ډیری خبری وکړه. اوبهرورسره ولاړشه چې زیات شیان په ګډه ووینی اوتجربه یې کړی.
- خپل ماشوم ته کیسی وکړی. هغه ماشوم چې ډیری کیسی واوری، نوخپله هم ددی ښه استعدادپیداکوی چې نوروته اوحتی په نورو ژبو کیسی بیان کړی.
- خپل ماشوم ته په مورنی ژبه کیسی ولوله. ولی دلوستلوډیرشکلونه شته دی:
  - ته کولای شی چې وپوښتی چې ماشوم په کیسه وپوهیدی.
  - ته کولای شی چې دماشوم پوښتنی ته جواب ورکړی.
  - تاسی کولای شی چې دهغه څه په هکله وږغیږی کوم چې په عکسونوکی ګوری.
  - اوتاسی ممکن په دی اړوندهم خبری وکړی چې مختلف لغاتونه په ډنمارکی ژبه څه نومیږی.

په کورنیوکی چې دکتابونوپه اړوندخبری کیږی، دماشومانوژبه ښه کیږی اوپه اسانی سره زده کړه اودکتاب لوستل کولای شی.



کورنی کارکول مهم دی، ځکه
سړی لایق کیدلای شی.
نوکله چی سړی لوی شی،
نوسړی لایق وی. زه غواړم
پیلوټ شم.

ددوم ټولګی زده کوونکی

ستاسوماشوم کیدای شی چی
مختلف کورنی کارونه ولری.
په معمولی ډول ښوونکی هغه
وخت کورنی کاورکوی چی:

- ماشوم بایدهغه څه چی ښوونکی په ښوونځی کی درس ورکړی دی، باید تکراراوتمرین یی کړی.
- ماشوم بایدنوی شیانوته ځان تیارکړی، دبیلګی په توګه چی یوکیسه ولولی چی په وروسته کی په ښوونځی کی کاروربانده کیږی.
- ماشوم بایدیوه مستقله وظیفه ولری، دبیلګی په توګه یوه کیسه ولیکی او یاپه ټولګی کی دیوی موضوع په اړوندوږغیږی، کوم چی ماشوم خپله انتخاب کړی ده.

> «زمادنده ده چې
> ماشوم تمرکزاوارامش
> لاسته راوړي»
>
> والیدین

## ماشومان دماشومانوسره مرسته کوي

لږڅه لوی ماشومان کولای شي ډېرخوندواخلي چې یودبل سره مرسته وکړي. ته دوی ته وړاندیزوکړه چې دخپل کورنی کارلپاره یومرستندوی پیداکړي، چې دبیلګی په توګه دغه ممکن ورته ډېره ستونزمن وي. دامرستندوی کیدای شي همصنفی، خوریاوروروی.



## ښه مشوری کله چې تاسودخپل ماشوم سره دکورنی کارمرسته کوی

دکورنی کارپه اړوندیوورځنی پروګرام چې عادت شي، جوړکړه: داکیدلای شي چې دورځې په جریان کې یوټاکلی وخت وي، چې تاسودیوه یاڅوماشومانوسره کښینی اودبیلګی په توګه پوښتنه وکړی:

- کولای شي چې ماته وښیي چې نن تاسوپه ښوونځی څه کړی دی؟
- داسي څه لری چې دسبالپاره یی وکړی؟ کولای شوچې ستادښوونځی مهال ویش اویاداونی پروګرام وګورو؟
- دلسوڅخه ترپنځلسو دقیقو وخت دیوه ماشوم سره مصرف کړی.


په دی ډول دخپل
ماشوم سره دکورنی
درس مرسته وکړه!
Med i klubben
Unionens magt
Aftaler
KULTUR OG
BORGERSERVICE
Aarhus Kommune